د نارينه وو لپاره غوره صفونه لومړي او بدترين يې وروستي دي او د ښځو لپاره غوره صفونه وروستي او تر ټولو بد يې لومړي صفونه دي

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دى وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: "د نارينه وو لپاره غوره صفونه لومړي او بدترين يې وروستي دي او د ښځو لپاره غوره صفونه وروستي او تر ټولو بد يې لومړي صفونه دي".

[صحيح دى] [مسلم روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې په لمانځه کې د سړيو لپاره تر ټولو غوره او په ثواب کې تر ټولو زيات صفونه لومړني صفونه دي؛ دا له امام سره د هغوى د نږدېوالي، قراءت ته يې د غوږ نيولو او ښځينه وو څخه د لرې والي له امله، او تر ټولو بد، د ثواب او فضيلت له پلوه تر ټولو کم او د اسلامي شريعت له غوښتنې لرې يې وروستي صفونه دي. او د ښځينه وو لپاره تر ټولو غوره صفونه وروستني دي؛ ځکه چې دا د هغوى لپاره ډېر پرده او د نارينه وو سره له اختلاط او د دوى د لېدلو او په فتنه کې له لويدلو څخه لرې دي، او تر ټولو بد صفونه يې لومړي دي، ځکه چې سړيو ته نږدې او په فتنه کې د لويدلو لپاره ډېر جوګه دي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/11299

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee